AFGHAN GERMAN ONLINE
http://www.afghan-german.com
http://www.afghan-german.de
افغان جرمن آنلاین

عبدالرحمن فرقاني

نیټه 10/10/2009

# د افغانستان په شمال کی روسيی ته د لوديځ ګواښ

له کومي ورځي نه چی د اوباما سياسي اداری په امريکا کي سياسي واك تر لاسه کړي عام تصور دا دي چی د اوباما اداره زيار باسي تر څو هغه د مواجه او مقابلی جګړيزه تګلاره بدله کړي کومه چی د بوش اداری په نړيوال سياسي ډګر کي له خپلو دښمنانو سره خپله کړي وه , لدي کبله په نړيواله کچه نوي استراتيژي اعلان شوي تر څو هغه بدلون ته لاره اواره کړي کوم چی د امريکا نوي سياسي اداره يی غواړي , او امريکا له هغو ستونزو څخه وژغوري کومی چی په اسلامی نړي کی ورسره لاس اوګريوان شوي دي , د افغانستان په هکله هم د پام وړسياسي تحرکات په لاره واچول شول , ددي تحرکاتو په پايله کي د افغانستان د سياسي اداری چی د امريکا د پخواني اداری په دوران کی واك ته رسيدلی وه او دامريکا د نوی اداری تر منځ کله نا کله تاوتريخوالی رابرسيره کيږي , که يوه لوری ته د امريکا په مشری د لوديځ ځواکونه په افغانستان کی له مقاومت سره لاي ګريوان دي , خو بل لوری ته له هغه زاړه دښمن سره مخامخ شوي دي چی د افغانستان په ګرداب کي يی د ويتنام انتقام ور څخه واخيست , لوديځ وتوانيد چی روسيه ته په افغانستان کی په زړه پوري ماته ورکړي , او روسيه له افغانستان څخه خپل پياوړی ځواك مات او ګوډ وباسي , خو لوديځ دا فکر نه کاوه چی روسيه به په همدغه افغانستان کی لوديځ له ورتی ماتی سره مخ کړي لکه چی روسيه ورسره مخ شوي وه , د دي موخی لپاره يی د لوديځ هغه د اهميت وړ اکمالاتي لاري له ستونزو سره مخ کړلي چی د لوديځ د ځواکونو د جګړيز خوزښت بري او ماتي پکي نغښتی دي , لوديځ اوس مهال افغانستان ته د اکمالاتو لپاره يوه هوايی لاره چی د جرمنی د د هوايی چاپيريال په اوږدو کي ده لري اوبله د ځمکی لاره هغه لاره ده چی د پاکستان د خاوري په اوږدو کي د خيبر په رو افغانستان ته نښلي استفاده کوي , چی دا ځمکنی لاره يی د مقاومت تر نظامي بريد لاندی ده او د اکمالاتو قافلوته يی دير زيان اړول کيږي.

څرنګه چی د اوباما سياسي اداري په افغانستان کي نوي استراتيژي خپله کړله همدا رنګه يی د افغانستان په سياسي جريان پورتړلي خورا مهم هيواد روسيه ته هم د خبرو او مفاهمی تګلاره وړاندي کړله , ترڅو د افغانستان په هکله ولاړي ستونزي د حل لاره ومومي , لدي امله د روسيی په اړوند هغه نړيوالی کشالی چی د بوش اداری د روسيی سره پيدا کړي وي د خبرو له لاری وڅيړل شوي آن تر دي چی له بعضو نړيوالو سياسي مصلحتونو څخه امريکا د روسيی په ګټه تيره شوله د مثال په توګه په منځنی اسيا کي د امريکا د دفاعي پلان منحلول يادولي شو.

خو نوي سياسي جريانات اوپيښی د افغانستان په سياسي فضا کي د يوه نوي بدلون ښکارندوي دي د مثال په توګه دافغانستان شمال ته د جګړی غزول روسيی ته د لوديځ يو نوي ګواښ ښکاري , اودا هغه نوي نظامي تګلاره ده چی د روسيی پلويان يی په افغانستان کي او هغه هيوادونه چی د افغانستان په شمال کي پراته دي له تشويش سره لاس ګريوان کړي دي , او دا هيوادونه د سختدريځه ډلو له جګړيز خوزښت نه د افغانستان شمال ته په ويره کي دي , آن تر دي چی په دي هکله په رسمي توګه په نړيواله کچه د بعضي حکومتونو له خوا غبرګونونه اعلان شول , او د روسيه سفير په افغانستان کی هم په دي هکله څرګندونی وکړي چی ګواکي د افغانستان شمال ته د جګړی غزول به د افغانستان په شمال کی پراته هيوادونه تر تهديد لاندي راولي او د ناتو له ځواکونو څخه يی غوښتنه وکړه ترڅو د دي خوزښت مخنيوی وکړي , د افغانستان په سياسي چاپيريال کي هم د روس پلوه څيرونکو له خو دا يو منظمه نظامي او سياسي تګلاره بلل کيږي چی لوديځ غواړي د روسيه په اړوند يي په کار واچوي.

يوشمير کارپوهان پدي اند دي چی د امريکا نوي استراتيژي د روسيه په هکله د بدلون په حال کي ده , او د امريکا نوي پريکړه چی د امريکا د بهرنيو چارو وزيری مرمن کلنټن په څرګندونو کي ورته اشاره وشوه چی ګواکي طالبان به په راتلونکي حکومت کي شريك کړل شی هم د روسيی او روس پلوه سياسي پاځون په اړوند حرکت دي , او لوديځ غواړي روسانو ته په ډاګه کړي چی که چيری د دوي سياسي مصلحتونه په افغانستان کی د کړکيچ سره مخ کيږي نو غرب په خپل وار د روسيی ګټه هم زيانمنولي شي , دلوديځ دغه نوي سياسي حرکت د روسيه او روس پلوه هيوادونه له کلك غبرګون سره مخ شوو , څرنګه چی وړاندي يادونه وشوله , او د شنګهاي دتړون غونده د منځنی اسيا د هيواداونو تر منځ هم په همدي موخه تر سره کيږي تر څو د افغانستان د وضعيت په هکله د لوديځ په وړاندي يو مشترك سياسي موقف وڅيړل شي , دا په داسي حال کي چی په راتلونکي اوني کي د امريکا د بهرنيو چارو وزيره مرمن کلنټن هم د اوروپا له چاروکوسره کتني لري تر څو د افغانستان ثبات او سياسي استقرار وڅيړل شي , کيدي شي راتلونکی اوني د افغانستان د سياسي سرنوشت د ټاکلو لپاره مهمه اوني وي , خو د کړيدلي ملت له ارادی پرته.



افغان جرمن آنلاين تاسو په درنښت همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادښت: دليکني د ليکنيزي بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له رااليرلو مخکي په ځير و لولئ